// افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد          بدين بوم و بر زنده يک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهيم          از آن به که کشور به دشمن دهيم

www.afgazad.com          afgazad@gmail.com

| Social | اجتماعی |
| --- | --- |

فرهاد وياړ
١٣.٠٦.٠٩

# توره عاطفه

مرسي*:
يوه توره عاطفه
څلور کلن زړګی
ليمې يې مړاوې د يتيم خانو په کتارونو کې.

*          *          *

ډيويډ
د يتيم خانو د درشل شاته
د مرسي د نړی ملګری،
اوس،
دواړه، د "شتمنی" په مړوندو کې
ځړيږ، راڅاپيږه
دواړه:
تك تور،
حيران،
هك پك:
دا سپين مړوندونه؟
دا تور مړوندونه؟
دا څوك، مونږ څوك؟؟



*          *          *

ډيويډ، مرسي
دواړه، چوپه چوپتيا
په سترګو کې يې د پوښتنو تندر
راماتيږي
راغورځيږي:
مونږ خرڅ شوي يو؟
زمونږ مينه حراج شوی؟
زمونږ عاطفه،

حراج – حراج – حراج؟

*   *   *

مډونا، د دروغجنو آوازونو سندرغاړې
د دروغجنو مینو سندرغاړې
عاطفه په ملنډو نیسي
مینه په ملنډو نیسي
ډیوېډ،
خپله مینه د مډونا په آوازونو کې نه اوري
مرسي،
خپله توره مینه د مډونا په سندرو کې نه ویني
مینه
درواغ
عاطفه
درواغ.

*   *   *

میریام ماکبا **
هغه تور کنګل شوی ستوني
جوآن بایز ***
هغه تپي سپیني ګوتې
د ډیوېډ
د مرسي
توره عاطفه
پر ګیتارونو غږوي.
پر تارونو غږوي.

* مډونا، د پاپ موسیقۍ ستورې، ډیوېډ په ۲۰۰۶ کال کې د ماولاي افریقایي هیواد څخه د اولاد په توګه ومنو او بیا یې په ۲۰۰۸ کال کې مرسي، چې د خپلې اتلس کلنې مور مرګ وروسته په هغه یتم خانه کې اوسیده چې ډیوېډ هم هلته وسیده، د اولاد په توګه ومنله.
** میریام ماکبا، د سویلي افریقا سندرغاړې په خپلو سندرو کې د توکمیز توپیر په وړاندې غږ پورته کړ او دا غږ یې تر رژیدلو پورې په ستوني کې ژوندې وساتو خو بالاخره دا غږ د ژمي په درشل کې کنګل شو.
د هغه ترانې د لنګستن هیوز د شعرونو په شان د تورو د رنځونو، دردونو او کړاونو ژوندی انځورونه وو او دا ترانې یې په هومره مینه ناکه او تود غږ ویلې چې د ستم ماڼۍ یې لړزولې.
میریام (د افریقا مور) چیرې چې به د توکیمز توپیر ضد جګړه روانه وه، هلته به حاضر وه. له کتاب نیولې تر سیمنا او بیا تر ترانې او موسیقۍ پورې.
*** جوآن بایز د امریکا د متحدو ایالتونو تلپاتې سندرغاړې په ۱۹۴۱ کال کې په نیویارک کې سترګې وغړولې. د منځنۍ دیپلوم اخیستلو وروسته یې د لومړۍ ځل لپاره د موسیقۍ یو کسټ ثبت کړ چې د کمپنیو خوښ رانغی. له دې وروسته د بوستون پوهنتون کې نوم لیکی خو ډېر ژر دا پوهنتون خوشې کوی او د موسیقۍ نړۍ ته وردننه کیږی. په ۱۹۵۹ کال کې په ۴۷ کلب کې چې د "ولسی موسیقۍ"لپاره ځانګړی شوی و د سندرو ویلو پیلوی او ډېر ژر د خلکو زړونو کې لاره مومی.